# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د جنوري اوومه | دویم کال| ۳۱۳مه ګڼه


## هېواد

۴ مخ

### کامرون

د دغـه هېـواد ۷۰ سـلنه خلـک د کرنـې په سـکټور کـې پر کار بوخـت دي او د هېـواد ۲۰ سـلنه ناخالـص کورني تولیـدات هـم لـه همدغـه سـکټور څخـه لاس تـه راځـي.



### په بامیانو کې لسګونه سړې خونې جوړېږي



په بامیانو کې کروندګرو ته د اسانتیاوو د برابرولو، د کچالیو د بیې د تنظیم او بازار ته په وخت د عرضه کولو لپاره د اسیایي بانک په مرسته لسګونه سړې خونې جوړېږي. د دغه ولایت د کرنې ریاست وایي، د کچالیو د ساتلو لپاره دغه سړې خونې د دغه بانک د ۲۵ میلیونو ډالرو په مالي همکارۍ جوړېږي.

د یاد ولایت د کرنې رییس عبدالوهاب محمدي وایي، د اسیا پرمختیایي بانک د هېواد په ۱۲ ولایتونو کې د کرنې د ودې لپاره ۷۵ میلیونه ډالره مرسته کړې چې له دې ډلې به له ۲۰ تر ۲۵ میلیونو ډالرو په بامیانو کې د سړو خونو په جوړولو ولګوي. په بامیانو کې هر کال کروندګر زرګونه ټنه کچالو له ځمکې په لاس راوړي، خو د سړو خونو او سمو لارو د نشتون له امله په وخت بازار ته نه عرضه کېږي او کروندګرو ته چنداني ګټه هم نه کوي.

## د افغان سولې په اړه د قطر ناسته؛

# دا ځل طالبان او امریکا د افغان پلاوي په حضور کې خبرې کوي




۳


د سولې خبرې ببرته سم مسیر ته ور ګرځي؟ ۲ مخ

د ټاکنو ځنډېدل؛ تاواني لوبه ۲ مخ

د بلغاریا هغه سیمې چې ډېر سیلانیان ورځي ۳ مخ


## په بدخشان کې ۳۰ کان کېندونکي وژل شوي دي

د بدخشان ولایت چارواکي وایي، د دغه ولایت په په کوهستان ولسوالۍ کې د سرو زرو د یوه کان د ځمکې د ښویېدنې له امله ۳۰ کان کېندونکي وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان دي.

چارواکي وایي، دغه کسان په یوه سیند کې د سرو زرو پر تصفیه کولو او کېندلو بوخت وو چې رېګ او خاوره پرې ور ښویېدلې او یاده مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د کوهستان ولسوال روستم وایي، د یکشنبې په سهار لس بجې د سرو زرو تصفیه کوونکي پر کار بوخت وو چې د اورښت له کبله رېګ پرې ښویېدلی، ۳۰ کسان وژل شوي او نږدې لس نور ټپیان دي.

نوموړی وایي، د سیند په منځ کې تر لسو زرو ډېر کسان کار کوي او سره زر تصفیه کوي.

په ورته مهال ولسمشرۍ ماڼۍ د یوې اعلامیې په خپرولو سره پر دې پېښې خواشیني ښودلې او په اعلامیه کې ویل شوي چې ولسمشر غني اړوندو ادارو ته سپارښتنه کړې، څو زیانمنو خلکو ته عاجلې مرستې ورسوي او د پاتې کسانو د ژغورنې لپاره بېړنې اقدامات وکړي.

د کوهستان د ولسوال په خبره، سیمې ته امنیتي او مرستندویه ډلې رسېدلې دي.

په ورته وخت کې ځینې راپورونه بیا د وژل شویو شمېر تر دې زیات بولي.

## جمعیت ګوند: ښایي په ولسمشریزو ټاکنو کې له ډاکتر عبدالله عبدالله ملاتړ وکړو



۵ مخ

## مشعل: به مهاجرین قانونی افغان مقیم پاکستان تسهیلات فراهم شود



عاطف مشعل سفیر افغانستان مقیم اسلام آباد، از تمام سرقونسل های افغان در پاکستان خواسته که به مشکلات مهاجرین افغان، به زودی رسیدگی نمایند.

در خبرنامه ای که از سوی سفارت افغانستان پخش شده، می نگارد که عاطف مشعل سفیر جدید افغان در دفتر کارش، با سرقونسل های افغان مقیم شهرهای کراچی، پشاور و کویته ملاقات نمود.

منبع افزوده است که در نشست متذکره، برخی دیپلومات ها نیز حضور داشتند، سفیر جدید آنها را به هماهنگی و همکاری میان قونسلگری ها توصیه کرد.

عاطف مشعل، به سرقونسل ها گفته است که تاجران پاکستان و افغان را به سرمایه گذاری و رشد تجارت در افغانستان ترغیب کنند و در این عرصه تسهیلات لازم را برای آنها فراهم سازند.

همچنان نامبرده در عین حال، بر احترام متقابل و منافع دو جانبه با پاکستان اصرار ورزیده است.

سفیر افغانستان از سرقونسل های متذکره خواسته تا به مشکلات مهاجرین افغان در پاکستان توجه جدی مبذول نموده و به موقع معین، به آن رسیدگی نمایند.

به اساس معلومات کمیشنری عالی مهاجرین سازمان ملل متحد، اکنون نیز حدود دو میلیون مهاجر افغان در پاکستان اقامت دارند.

از جانب دیگر، سفیر افغانستان با روبندرینی مسئول کمیشنری عالی سازمان ملل متحد برای مهاجرین در پاکستان نیز دیدار نموده و پیرامون مشکلات مهاجرین افغان درآن کشور، با وی تبادل نظر نموده است.




دریــځ

## د سولې خبرې بېرته سم مسیر ته ور ګرځي؟

په سعودي کې د سولې په تړاو د کېدونکې غونډې له ځنډ یا لغوه کېدو وروسته، اوس طالب چارواکي وايي چې له امریکا سره به مخامخ خبرو ته دوام ورکړي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي، له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو امکان نشته، خو له امریکا سره یې د خبرو یو نوی پړاو پیلېدونکی دی. هغه زیاته کړې چې د دغو خبرو وخت او ځای معلوم نه دی.

په سعودي کې د سولې د غونډې برخلیک معلوم نه دی، ځینې سرچینې وايي چې غونډه لغوه شوې، خو ځینې بیا وايي چې ځنډېدلې ده او هغه وخت به وشي چې طالبان له حکومت سره مخامخ خبرې ومني. د سعودي عربستان غونډه ځکه وځنډېدله او یا لغوه شوه چې له طالبانو غوښتل شوي وو، څو له افغان حکومت سره خبرې وکړي، خو طالبانو پر خپل پخواني دریځ ټینګار کاوه.

په سعودي کې کېدونکې غونډه او د غونډې ډول داسې و چې د افغان سولې لپاره هلې ځلې یې له نوو خنډونو سره مخ کولې. په دې غونډه کې تر ټولو لویه ستونزه دا وه چې طالبانو له افغان حکومت سره مخامخ خبرې نه کولې. کله چې د افغان سولې په تړاو بحث کېږي او هلته د سعودي، اماراتي او امریکایي چارواکو ترڅنګ، د ای اېس ای رییس او یا د پاکستان بل چارواکی ناست وي، خو د افغان دولت استازی نه وي، دا نو بیا په هېڅ ډول د افغانستان په ګټه نه ده. د دې غونډې بله لویه ستونزه دا وه چې د جګړې د لورو (طالب، حکومت، پاکستان او امریکا) ترڅنګ پکې اماراتو او سعودي ګډون کاوه، خو د سیمې نور هېوادونه چې تر دوی ډېر په افغانستان کې ښکېل دي، نه وو. ایران، روسیه، چین او هند د سیمې هغه هېوادونه دي چې باید د سیمه ییز حل برخه وي، ځکه چې دوی په یو ډول د جګړې برخه دي.

اوس طالبان له امریکا سره د مخامخ خبرو د دوام خبرې کوي. دا تر څو اړخیزې غونډې چې په جده کې وشوه او تر هغې غونډې چې د افغان دولت له ګډون پرته په سعودي کې کېدله، د سولې په برخه کې ښه ګام دی. که څه هم په خبرو کې د افغان حکومت د نه ګډون ستونزه پر ځای ده، خو دا چې له دې غونډې د پاکستان استازی او یا هم د سعودي او اماراتو استازي و ایستل شول، دا ښه پرمختګ دی او په دې ډول د سولې خبرې بېرته تر یوه بریده اصلي مسیر ته ور ګرځي. که په غونډه کې د نورو هېوادونو استازي ور ګډېږي، بیا پکار ده چې د یوه لوري او یوه بلاک هېوادونه نه وي، بلکې د سیمې ټول هېوادونه په ځانګړي ډول هغوی چې په افغانستان کې دخیل دي، باید په دغو غونډو کې ور ګډ شي، څو سیمه ییزه اجماع وي او دوی ټول په ګډه د سولې لپاره ګامونه واخلي. له دې پرته د افغان سولې په تړاو د داسې غونډو دوام چې افغان حکومت پکې نه وي، خو پاکستان پکې وي او یا هم سعودي او امارات پکې وي، خو ایران، روسیه، هند او چین پکې نه وي، له سولې او ثبات سره مرسته نه شي کولی.

# د ټاکنو ځنډېدل؛ ټاواني لوبه



لیکنه: نجیب منلی

د ټاکنو «خپلواک» کمېسیون د ولسمشرۍ ټاکنې وځنډولې او لاپه یې وکړه چې څلور ټاکنې به په یوه ورځ له مخکې ټاکل شوې نېټې درې میاشتې وروسته کوي.

کمېسیون د خپلې پرېکړې په توجیه کې ډېرې پلمې او بهانې ذکر کړې دي چې یوه یې په ژمي کې ساړه او یوه بله یې د کمېسیون د وړتیاوو کموالی دی.

د ژمي او یخنۍ خبره د کمېسیون له خوا هم پر ځان او هم پر ملت ملنډې وهل دي. کله چې څو ورځې د مخه کمېسیون د وري ۳۱ مه د ټاکنو لپاره وټاکله، هغه مهال دوی نه وو خبر چې په ژمي کې د افغانستان په ډېرو سیمو کې هوا سړه وي. هغه کومې نوې څېړنې وې چې دا ستر واقعیت یې د یوې اونۍ په ترځ کې را برسېره کړ؟

د کمېسیون د وړتیاوو خبره هم په زړه پورې ده، د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سره سم د کمېسیون د اصلاحاتو خبره مطرح وه. د تلې په میاشت کې پارلماني ټاکنې وشوې چې ټولې پایلې یې تر اوسه نه دي اعلان شوې. دا د کمېسیون د اوسنیو وړتیاوو عیني انځور دی. په دریو میاشتو کې به کومې داسې معجزې وشي چې همدغه کمېسیون خپله وړتیا دومره لوړه کړي چې همهاله به څلور بېلابېلې ټاکنې په بریالیتوب وکړي.

حکومت هم په ډېر جرئت داسې څرګندوي چې ګواکې د کمېسیون پر پرېکړو هېڅ ډول مستقیم او غیر مستقیم اغېز نه لري، خو د هرې پرېکړې په درشل کې د حکومت او کمېسیون ترمنځ پټې او نیمه ښکاره ناستې کېږي.

د کمېسیون خپلواکي هماغومره د باور وړ ده، لکه د ټاکنو د ځنډولو لپاره چې د کمېسیون توجیهات د باور وړ دي. نو په دې خبره کې چندان شک نه پاتې کېږي چې حکومت او کمېسیون په ګډه د یو بل څه په لټه کې دي. دا «بل څه»، څه کېدای شي؟

هغه ډلې او اشخاص چې په ټاکنو کې ونډه اخیستل غواړي، ځانونه له حکومت او برحاله ولسمشر سره په تناظر کې ګوري. په بل عبارت، د ولسمشر له ټیم پرته نور ټول کاندیدان په یو ډول ځان له ولسمشر سره په رقابت کېویني. دوی داسې انګېري، یا لږ تر لږه داسې ادعا کوي چې ګواکې حکومت ټاکنې د دې لپاره ځنډوي چې په ټاکنو کې د لاپراخو درغلیو لپاره نوې تدابیر ونیسي، څو د اوسني ولسمشر بیا ټاکل کېدو ته لاره هواره شي.

د ټاکنو او په ټاکنو کې «انجنیرۍ» هغه څه دي چې لا تر اوسه یې دقیقه فارموله نه ده موندل شوې. هر څوک له خپل وس سره سم هڅه کوي چې د واقعي رایو په نسبت د ځینو تخنیکي «چلونو» په مرسته د رایو د صندوقونو محتوا په خپله ګټه بدله کړي. د ۲۰۱۴ ز کال رای پاڼې د نړیوالو څارونکو په حضور کې بیا بیا وشمېرل شوې. هغه واقعیت چې ټول پرې خبر دي او هېڅوک یې منلو ته غاړه نه ږدي، دا دی چې دواړو ټیمونو په لوړه کچه درغلي کړې وه چې په وروستیو پایلو کې د دواړو لورو درغلۍ سره خنثی شوې او د حکومتي واک وېشلو ته مصنوعي لارې جوړې شوې. په وروستیو پارلماني ټاکنو کې، د یو ډېر ساده لوحانه تحلیل پر بنسټ داسې و انګېرل شوه چې د نوو تخنیکي وسایلو کارول به په تخنیکي ډول د درغلۍ مخه ونیسي، خو واقعیت بل رنګ شو. د نوو تخنیکونو کارولو، په ټاکنو کې د درغلیو سپینول لا ستونزمن کړل. په ډاډ سره ویلای شو چې په راتلونکو ټاکنو کې به هم د تېر په څېر د درغلیو هڅه کېږي او د ټاکنو پایلې به په یو ډول نه یو ډول بې اعتباره کېږي.

تېرو تجربو ته په کتو، د ټاکنو د انجینرۍ پروسه سل په سلو کې له ناکامۍ سره مخ کېږي او دا لوبه «د صفر جمعې لوبه» بلل کېدای شي چې هېڅ ګټونکی نه لري، خو واقعیتونه ممکن بل لوری ونیسي.

د ټاکنو ځنډول، په هر موخه چې وي د حکومت په تاوان لوبه ده. په افغانستان کې د واک پر وړاندې ټولنیز- سیاسي برخورد تل د ولسي ملاتړ برخورد دی. د تاریخ په اوږدو کې افغانانو تل د برحاله حاکم ملاتړ کړی دی، که دا ملاتړ په فعال ډول د مشر تر شا د درېدلو له لارې وي او که په انفعالي ډول د مشر له مخالفینو سره د نه یوځای کېدو له لارې.

په افغاني ټولنه کې د واک د لېږد لپاره یوازې دوې ممکنې طریقې وجود لري؛ یا به برحاله واکمن په زور او قهر له واکه لوېږي او یا به په طبیعي ډول (په اکثرو مواردو کې د واکمن مړینه او په یو مورد کې قانوني ممانعت) واکمن بل واکمن ته ځای پرېږدي. تر اوسه داسې نه دي شوي چې کوم واکمن دې په خپله خوښه واک پرې اېښی وي.

د ۲۰۰۹ ز کال په ټاکنو کې حامد کرزي دا قانوني امکان درلود چې په واک کې پاتې شي او د امریکا له ښکاره مداخلې سره سره، په واک کې پاتې شو. په ۲۰۱۴ ز کال کې حامد کرزي په واک کې د پاتې کېدو قانوني حق نه درلود، نو ځکه له ستونزو سره سره د واک لېږد ممکن شو او اشرف غني په سوله ییز ډول واک ته ورسېد. د حامد کرزي له خوا وړاندې شویو کاندیدانو هم د ولس قناعت حاصل نه کړ.

که د ټاکنو پروسه په خپل طبیعي سیر کې پاتې شوې وای، نو د افغانستان سیاسي تاریخ ته په کتو، د ولسمشر غني په قدرت کې پاتې کېدل حتمي وو. د تاریخي ټولنیز- سیاسي برخورد له مخې رقیبو شخصیتونو لا خپل ولسي مشروعیت نه و تثبیت کړی او په واک کې ولسمشر د عام ملاتړ د ساتلو لپاره پر ټوله دولتي دستګاه تکیه کولای شوای.

له بل لوري، د ولسمشر رقیبانو ډېر وخت له لاسه ورکړی دی. که چا واقعاً غوښتل چې په ټاکنو کې د ګټونکي دریځ خپل کړي، نو ورته پکار وه چې کم له کمه یو کال یا تر هغه زیات یې له ولسونو سره تماس نیولی وای او خپلې طرحې یې ورسره شریکې کړې وای. دا کار هېڅ یوه احتمالي کاندید ونه کړ.

د ټاکنو د مهالوېش لومړي ځل اعلان احتمالي کاندیدان دې ته اړ کړل چې میدان ته راووځي. که ټاکنې په خپل طبیعي بهیر کې پاتې شوې وای، نو رقیبانو یوازې څو اونۍ وخت درلود چې له ولس سره خپل سیاسي نظریات شریک کړي. اوس چې احتمالي کاندیدانو خپل نیتونه څرګند کړي دي، هر څومره چې ټاکنې ځنډېږي، هماغومره په واک کې د ولسمشر غني بقا تر ګواښ لاندې راځي.

د ولسمشر رقیبو کاندیدانو ته پکار دي چې له دې فرصت څخه استفاده وکړي او خپلې تېرې شوې تورې بېرته په تېکي کې ننه نه باسي. که څه هم ستونزمنه ده چې یو اوږد سیاسي دود په څو میاشتو کې بدل شي، مګر د حکومت دغه بې پامه اقدام یوه لار پرانیسته چې تاریخي بدلونونه هم شوني کوي.

## ولسي جرګه: د سولې خبرو ته د طالبانو د کېنولو لپاره باید پر پاکستان فشارونه زیات شي



د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو کمېسیون پاکستان د افغان سولې په مسئله کې په دوه مخیتوب تورنوي او وايي، له افغان حکومت سره د مذاکراتو مېز ته د طالبانو د کېنولو په موخه باید پر دغه هېواد فشارونه زیات شي.

د دغه کمېسیون مرستیال داوود کلکاني ازادي راډیو ته وویل، امریکا او د سیمې ځینو هېوادونو لکه پاکستان، روسیې او ایران له طالبانو سره د بېلابېلو غونډو په جوړولو دوی ډېر لوی کړل، نو ځکه اوس له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته نه کېني.

نوموړی وايي: «زما په اند، پر پاکستان فشار او د روسیې، ایران، سعودي او متحده عربي اماراتو لپاره فعاله ډیپلوماسي، طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته کېنولای شي. له بده مرغه ښاغلي خلیلزاد او یوشمېر هېوادونو لکه پاکستان، روسیې او ایران له طالبانو سره غونډې وکړې او دوی یې ډېر غټ کړل چې اوس دوی فکر کوي چې له افغان حکومت سره له خبرو پرته هم ځینې بریاوې تر لاسه کولای شي.»

کلکاني وویل، مخکې طالبان حاضر وو چې ان د حکومت له ډېرو عادي خلکو سره هم د سولې خبرو ته کېني، خو طالبانو تل افغان حکومت لاسپوڅی ګڼلی او ویلي یې دي چې له افغان حکومت سره نه، بلکې له امریکا سره به د سولې خبرې کوي.

د تېر میلادي کال د ډسمبر په ۱۸مه د متحده عربي اماراتو په پلازمېنه ابوظبۍ کې، طالبانو د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او دغه شان د متحده عربي اماراتو، پاکستان او سعودي عربستان له استازو سره وکتل، خو د افغان حکومت د سولې له مرکچي پلاوي سره یې له لیدلو ډډه وکړه.

بیا تمه وه چې د سعودي عربستان په غونډه کې چې همدا میاشت په جده کې جوړېدونکې وه، دواړه خواوې سره مخامخ شي، خو تازه داسې راپورونه خپاره شوي چې دغه غونډه به د سعودي پر ځای په قطر کې وشي.

## حمدالله محب: هند افغانستان ته څلور نورې جنګي چورلکې ورکوي



د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب وايي، هند به په راتلونکو څو میاشتو کې افغانستان ته څلور نورې جنګي چورلکې ورکړي.

محب چې د خپل هندي سیال په رسمي بلنه نوي ډیلي ته په درې ورځني رسمي سفر تللی، دغه څرګندونې یې د هند له اېس اېن ای رسنۍ سره په ځانګړې مرکه کې کړې دي.

په دې مرکه کې د افغانستان د ملي امنیت سلاکار له خپل هندي سیال اجویت دووال سره د لیدنې پرمهال د دواړو هېوادونو پر اړیکو په تفصیل سره خبرې کړې دي.

محب ویلي، د هند د ملي امنیت له سلاکار سره د خبرو پر مهال هغه ورسره ژمنه کړې چې په روان کال کې به افغانستان ته څلور نورې جنګي چورلکې ورکړي.

د نوموړي په وینا، له ژمنې سره سم به دوې چورلکې د ۲۰۱۹ زېږدیز کال د مارچ په میاشت کې او دوې نورې به تر جولای میاشتې پورې افغانستان ته وسپارل شي.

دا په داسې حال کې ده چې هند له دې وړاندې هم افغانستان ته څلور اېم اې ۲۵ ډوله جنګي چورلکې ورکړې وې.

هند په داسې حال کې له افغانستان سره د څلورو نورو چورلکو د مرستې اعلان کړی چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ څو ورځې مخکې پر هند نیوکه کړې وه، چې په افغانستان کې یې یوازې یو کتابتون جوړ کړی دی، خو په کابل کې د هند سفارت په ټوېټر کې لیکلي چې هېواد یې په افغانستان کې تر اوسه تر دوو میلیاردو ډالرو زیاتې مرستې کړې دي.

سرچینې لیکلي، دوی په کندهار کې پوهنتون، په هرات کې د سلما بند، په کابل کې د پارلمان د ودانۍ ترڅنګ سلګونه نورې پروژې پلې کړې دي.

د یادونې ده چې څو ورځې مخکې امریکا هم افغان هوایي ځواک ته نورې اېم ډي ۵۳۰ ډوله چورلکې ورکړې.

له دې مخکې د افغانستان د ملي دفاع وزارت ویاند جاوید احمد غفور، پژواک ته ویلي وو چې دا چورلکې په عملیاتو او جګړو کې ډېرې اغېزمنې دي او زیاته کړې یې وه چې اوسمهال په ډېرو عملیاتو او جګړو کې له همدغو چورلکو کار اخیستل کېږي.

### د افغان سولې په اړه د قطر ناسته؛

# دا ځل طالبان او امریکا د افغان پلاوي په حضور کې خبرې کوي




طالبانو د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو له فشارونو د خلاصون لپاره د جدې غونډه تحریم کړې ده.
طالبانو ته نږدې سرچینو کابل نیوز ته ویلي چې طالبان له افغان حکومت سره د خبرو په موخه د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو تر فشار لاندې وو. د دغه سرچینې په خبره، طالبان نه غواړي له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي، نو له همدې امله به دغه غونډه د جدې پر ځای په دوحه کې ترسره کېږي.
تر دې مخکې تاکل شوې وه چې د طالبانو، افغان حکومت، متحده عربي اماراتو، سعودي عربستان او امریکا ترمنځ د افغان سولې په تړاو په جده کې غونډه وشي. د دغه غونډې دقیقه نېټه نه وه په گوته شوې، خو اوس طالبان وایي چې غونډه به د جدې پر ځای په دوحه کې جوړېږي. طالب سرچینو هم د غونډې دقیقه نېټه نه ده په ډاگه کړې.
سرچینې همدا راز ویلي چې په دغه غونډه کې افغان حکومت، امریکا، طالبان، متحده عربي امارات، سعودي عربستان او پاکستان برخه اخلي.
طالبان په دې غونډه کې د افغان حکومت گډون مني، خو وایي چې د حکومت له استازو سره به یوازې په غونډه کې گډون کوي او مخامخ خبرې نه ورسره کوي.
بل پلو د سولې عالي شورا بیا وایي چې د جدې د غونډې د ترسره کېدو دقیقه نېټه او همدا راز د دغه غونډې د لغوه کېدو په اړه رسمي معلومات نه دي ورکړل شوي. د دې شورا ویاند سید احسان طاهري وایي، د جدې د غونډې د ترسره کېدو او لغوه کېدو رسمي معلومات نه دي ورکړل شوي او نه هم په دې اړه نظر څرگندولی شي. د ده په وینا دا ځل باید د ابوظبۍ د غونډې تجربه تکرار نه شي او افغان حکومت باید تر هرڅه وړاندې ځان باوري کړي چې طالبان مخامخ خبرې ورسره کوي.
د طاهري په خبره، که طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرې نه کوي، نو ضرور نه ده چې استازي یې په دې غونډه کې گډون وکړي.
طالب سرچینې بیا وایي چې د دوحې په غونډه کې به له امریکا سره مخامخ خبرې کوي او په وینا یې په دې خبرو کې به پرمختگ وشي. تر دې وړاندې ویل شوي وو چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ به د مخامخ خبرو لپاره زمینه برابرېږي او سعودي عربستان په دې برخه کې قوي ژمنې کړې وې.
خو اوس طالبان وایي چې د ځان د استقلالیت او د سعودي عربستان او اماراتو له فشاره د خلاصون لپاره په قطر کې غونډه کوي.
په دې وروستیو کې د ایران، پاکستان، امریکا او سعودي عربستان له لوري پر طالبانو فشارونه زیات دي، څو له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضر شي، خو دغه ډله وایي چې دوی له امریکا سره خبرې کوي او لومړی غواړي چې د افغانستان د قضیې بهرنی اړخ حل کړي. بل پلو د افغانستان د پارلمان غړي بیا وایي چې طالبان باید له افغان حکومت سره خبرې وکړي او په دې توگه په هېواد کې روان بحران ته د پای ټکی کېږدي. د مشرانو جرگې غړو هم په پرونۍ غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې د افغانستان ستونزه یوازې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو له لارې د حل وړ ده. د دوی په خبره، په هېواد کې د ننه ټول سیاسیون باید د سولې په اړه اجماع رامنځته کړي او د خپلو شخصي گټو لپاره دې دغه ملي پروسه نه زیانمنوي. دوی پر طالبانو هم غږ وکړ چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي او اجازه دې نه ورکوي چې د سیمې هېوادونه او گاونډیان د خپلو گټو لپاره د افغانستان د سولې مسئله وکاروي او دا پروسه زیانمنه کړي.

## د سولې عالي شورا: د سولې د مخامخ خبرو د پیل لپاره پاکستان ته د افغان پلاوي سفر مهم دی



د سولې عالي شورا د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د مستقیمو خبرو د پیلېدو لپاره پاکستان ته د افغان پلاوي سفر مهم بولي.
د دې شورا د دارالانشا د رییس محمدعمر داوودزي په مشرۍ، پاکستان ته تلونکی پلاوی به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د مستقیمو خبرو د پیلېدو لپاره د دغه هېواد چارواکي وهڅوي او عملي اقداماتو ته رښتینو وهڅوي.
د دې شورا د معلوماتو له مخې، د سولې عالي شورا ویاند سید احسان طاهري پرون په کابل کې د یوې خبري ناستې پرمهال وویل، پاکستان کولای شي چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته چمتو کړي.
نوموړی زیاتوي: «دا لومړی سفر دی، دا سفرونه ښایي دوام وکړي، ځکه موږ د افغانستان د سولې په بهیر کې د پاکستان همکارۍ ته اړتیا لرو. دغه هېواد کولای شي چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته وهڅوي، موږ هیله لرو چې په دغه بهیر کې پاکستان لا زیات عملي گامونه واخلي.»
دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې د سولې عالي شورا د دارالانشا د رییس محمدعمر داوودزي په مشرۍ به یو پلاوی سبا پاکستان ته لاړ شي.
افغان پلاوی به پاکستان ته د خپل سفر په ترځ کې د دغه هېواد له لوی درستیز، سیاسي مشرانو او ښایي د دغه هېواد له لومړي وزیر عمران خان سره هم وگوري.
طاهري وایي، د دغه سفر موخه په دوو مهمو موضوعاتو څرخي چې یو یې د پاکستان له خوا له افغان حکومت سره د سولې مستقیمو خبرو ته د طالبان هڅول او بل یې د هغه هېواد له خوا د افغان سولې بهیر لپاره د سیمه ییزې اجماع ملاتړ دی.
که څه هم د افغان سولې په بهیر کې د پاکستان همکاریو ته تل د شک په سترگه کتل کېږي او دغه هېواد ته د افغان چارواکو سفرونه بې گټې بلل شوي، خو د سولې عالي شورا بیا پر دې باور ده، چې په دې وروستیو کې د افغان کشالې په اړه د دغه هېواد په دریځ کې څه ناڅه بدلون راغلی دی.

## د پکتیا والي: ځینې وزارتونه د پروژو د پلي کولو وړتیا نه لري

د پکتیا ولایتي شورا او خلک وایي، له تېرو اوو کلونو راهیسې په دغه ولایت کې هېڅ لویه پروژه نه ده پلي شوې، د ځینو لویو پروژو تړونونه لاسلیک شول، خو وزارتونه یې د پلي کولو وړتیا نه لري.
دوی د حکومتي چارواکو له خوا شوې ژمنې غولوونکې بولي او وایي چې له یاد ولایت سره په مهمو مسئلو کې ډېر توپیري او سرسري چلند کېږي.
د پکتیا د ولایتي شورا غړی ممتاز کروخېل نیوکه کوي چې دغه ولایت ته هېڅ وزارت او ادارې په خپلو برخو کې کار نه دی کړی او په هره برخه کې ډېرې ستونزې او اړتیاوې لري.
نوموړي پژواک ته ویلي: «پکتیا ته هېڅ کار نه دی شوی، د نورو ولایتونو په پرتله پکتیا د ولسوالۍ حیثیت هم نه لري. په تېرو کلونو کې ان د ځینو پروژو پرانیسته هم شوې، خو په دې کې د دولت ناغېړي او کم کاري ده چې نه یې عملي کوي، د نه عملي کېدو علت یې هم معلوموي چې خپله کمزوري یې ښوډلې ده، خو دغه حالت نور د منلو نه دی او موږ به له خلکو سره په گډه لاس په کار شو.»
د احمداباد ولسوالۍ اوسېدونکی ریاض ضمیر وایي، په دې وروستیو کې ځینې پروژې منظورې شوې او پرانیسته یې هم شوې، خو بېرته پلازمېنې ته د چارواکو له ستنېدو سره سم، د پروژو چارې هم په ټپه درېدلې دي.
ضمیر وایي: «موږ له ولسمشر او ولایتي ادارې نه په دې گیله نه کوو چې گواکې دوی نوې پروژې نه دي پرانیستي، په دې شکایت کوو هغه پروژې چې افتتاح کړې یې دي، هغه یې هم نه دي تعقیب کړې».
دغه راز د پکتیا د ولایتي شورا غړي محمدرحمن قادري وویل، دغه ولایت په روغتیایي، پوهنې، اقتصادي او پرمختیایي برخو کې



ډېرې اړتیاوې لري چې حکومتي ادارې باید پرې کار وکړي.
د دغه ولایت والي شمیم خان کټوازی هم شته ستونزې مني او وایي چې په تېر کې دغه ولایت ته کار نه دی شوی، خو زیاتوي چې د ولسمشر له خوا به د لویو ژمنه شوو پروژو کارونه بېرته پیل شي.
کټوازی د یادو پروژو د کار د ځنډ عوامل د وزارتونو ستونزې او کم کاري، توپیري چلند او د ظرفیت نه شتون بولي.

## ایران: ډېر ژر به له روسیې سره په گډه په کسپین سمندرگي کې پوځي تمرینات پیل کړو

روسیه او ایران په کسپین سمندرگي کې گډ پوځي تمرینات پیلوي.
د ایران د سمندري ځواکونو یوه چارواکي ویلي چې په پام کې لري له روسیې سره په کسپین سمندرگي کې ډېر ژر گډ پوځي تمرینات پیل کړي.
د ایران مهر خبري اژانس د دغه هېواد د سمندري ځواکونو د مشر حسین خانزادي په حواله راپور ورکړی چې ویلي یې دي: «دا د دواړو هېوادونو تکتیکي، د ژغورنې او د سمندري غلو پرضد جنگي تمرینات دي».
ایران او روسیې په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۷ ز کلونو کې هم په کسپین سمندرگي کې دې ته ورته پوځي تمرینات ترسره کړي وو.
خانزادي ویلي، د کسپین سمندرگي په شاوخوا کې پراته هېوادونه په سیمه کې د هر هغه هېواد د پوځي حضور مخالفت کوي چې له دغه سمندرگي سره ساحل نه لري.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ایران سمندري ځواکونو اعلان کړی و چې ډېر ژر به په اتلانتیک سمندر کې پنځه جنگي بېړۍ ځای پرځای کړي.
د ایران له دغه اعلان وروسته داسې گنگوسې خپرې شوې چې دا د امریکا متحده ایالتونو پر وړاندې د ځواک ښودلو په موخه په سیمه کې د ایران د حضور هڅه گڼل کېږي.
د فارس خبري اژانس په حواله، د دغو جنگي بېړیو د ماموریت د پیل لپاره ټول ترتیبات نیول شوي دي.
د ایران د سمندري ځواکونو مشر تورج حسني مقدم ایرنا خبري اژانس ته ویلي، د جنگي بېړیو دغه ماموریت به په راتلونکي لمریز کال کې پیل شي.
د سهند په نوم څلورماشینه جنگي بېړۍ به



هغه رهبري شوی میزایل لېږدوي، چې تېره میاشت یې د جوړولو اعلان وشو.
فارس خبري اژانس ویلي، دغه جنگي بېړۍ به د لاتیني امریکا په هېواد وینزویلا کې چې ایران ورسره دوستانه اړیکې لري، تم شي.
د ایران په دغو جنگي بېړیو کې تر ټولو غټې دوې پرمختللې هغه هم شاملې دي چې دواړې د څرخي الوتکو د لېږدولو وړتیا لري.

## د کتــاب خبــري

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میراحمد یاد

### لومړی څپرکی
### پر خپل بري باور ولرئ:




غرونه غروونه ایمان و باور او له لږ نورو وسایلو سره یې د کشیشۍ ښوونیزه دوره پیل کړه. پنځه کاله وروسته د کشیشۍ مقام ته ورسېد او له یو شمېر ښو پیروانو سره په ایلیونز کې مېشت شو.

نو اوس هغه کس زوړ دی؟ نه بلکل نه! اوس هم ورته د ژوند شل رغنده کلونه پراته دي.

څه وخت مخکې مو سره خبرې کولې، راته ویل یې: (پوهېږې، که مې په پنځه څلوېښت کلنۍ کې هغه پرېکړه نه وی کړې، نو پاتې عمر به همداسې بې گټې ناست وم. اوس داسې احساس کوم چې د عمر هره شېبه مې د پنځه ویشت کاله پخواني وخت په شان تېروم.)

خبره یې تر یوه ځایه رښتیا وه یا به ښایي ظاهراً همداسې ښکارېدو. د تېر عمر له بهانې چې خلاص شوئ، نو د ځوانۍ احساس به ورسره سم بیامومئ. که مو د تېر عمر وېره ختمه کړه او پرې بریالي شوئ، نو عمر به مو هم ورسره زیات شي.

د عمر د بهانې د ختمولو په اړه مې د پوهنتون یوه ملگرې راته جالبه خبره وکړه. دی په څه باندې شل کلنۍ کې له هارورډ پوهنتونه فارغ شوی دی، دېرش کاله یې په بریالیتوب سره د کمېشن کارۍ کار کړی دی او اوس دېرش کاله وروسته پوه شوی دی چې غواړي په پوهنتون کې استادي واخلي. ټولو ملگرو هڅه کوله چې له دې پرېکړې یې را وگرځوي، ځکه د درسونو فشار پرې ډېرېده، خو هغه پرېکړه کړې وه چې هر څنگه وي خپلې موخې ته به ځان رسوي. په دې خاطر یې په پنځوس کلنۍ کې د ایلیونز په پوهنتون کې داخله وکړه او په پنځه پنځوس کلنۍ کې یې سند واخیست. اوس د ښکلو هنرونو په یوه معتبر پوهنتون کې د اقتصاد د څانگې رئیس دی. ډېر زیات خوشاله دی او په خندا وایي: (د بوډاتوب احساس ډېر ځورونکی دی، هڅه وکړئ چې لاره مو بنده نه کړي.)

انسان څه وخت ځوان وي؟ یوه بهانه دا ده چې (لا خو ځوان یم) دا بهانه هم انسان ته زیان رسولای شي. یو کال مخکې راته د جیري په نوم یو درویشت کلن ځوان خپله ستونزه بیان کړه. جیري ښه زلمی و، د پراشوټ په برخه کې یې خدمت کړی و او بیا کالج ته ورغلی و. درس یې لوست، یو زوی او مېرمن یې درلودل او یوه لوی شرکت ته یې د پلورونکي او زېرمتون د مدیریت کار کاوه. ظاهراً یې خپل مسئولیتونه ښه ترسره کول، خو بیا هم اندېښمن ښکارېده، ویل به یې: (ډاکتر صیب! یوه ستونزه راته پیداشوې ده، شرکت غواړي ما د خرڅلاو مدیر کړي او د اوو پلورونکو کار ټول زما تر لاس لاندې کړي.)

ما ورته وویل: مبارک دې شه، دا خو ډېر ښه کار دی، ته ورته ولې خپه یې؟

ویل یې: (زه به د اتو تنو مشري کوم او اته واړه تر ما له اتو تر یووېشتو کالو مشران دي، تاسې ووایې چې څه وکړم؟ دا کار کولای شم که نه؟)

ورته ومې ویل: جیري! ستا د شرکت رئیس پوه شوی چې ستا عمر د دې کار لپاره جوړ دی، گڼي تاته یې دا کار نه درسپاره. زه درته یوازې درې خبرې کوم، دا یاد ساته چې هر څه دې سم پر مخ لاړ شي:

۱) خپل عمر ته مه گوره. د کار په میدان کې چې کوم هلک ثابته کړه چې د سړي هومره کار کولای شي، نو خپله سړی کېږي. هلته عمر او کلونه په کار پورې هېڅ اړه نه لري او دا خبره ستا په اړه هم صدق کوي. ته چې دا ثابته کړې چې د خرڅلاو مدیریت له مسئولیته وتی شې، نو په اصل کې ته دا ثابتوې چې د دې کار لپاره مناسب عمر لرې.

۲) له خپل نوي موقفه ناوړه گټه مه اخله. پلورونکو ته درناوی لره، له هغوی نظر اخله، داسې چلند کوه چې هغوی فکر وکړي چې د خپلې ډلې له مشر سره کار کوي، نه له کوم دیکتاتور سره... . داسې کارونه وکړه چې هغوی له تاسره د موخو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي، نه دا چې پرضد دې ودرېږي.

۳) له خپلو مشرانو او کشرانو سره ځان په کار عادت کړه. په ټولو کارونو کې رهبران له څه مودې وروسته متوجه کېږي چې زیات پیروان یې تر ده مشران دي. وروسته چې بیا نوي فرصتونه رامنځته کېږي، نو دا پوهه به درسره ډېره مرسته وکړي. دا یاد لره جیري! چې ستا عمر ستا ضعف نه دی، په لوی لاس ترې ځانته ضعف مه جوړوه.


د جیري کاروبار نن سبا ډېر ښه دی. د ټرانسپورټ او لېږد له مسلک سره ډېره مینه لري، اوس په یوې طرحې کار کوي چې څو کاله وروسته خپل شرکت جوړ کړي.

یوازې د یوه ځوان تصورات یې له ځوانۍ د ضعف نقطه جوړولای شي. زیاتره وخت اورو چې په ټاکلو مسلکونو کې بدني بلوغ ته اړتیا وي، خصوصاً د اعتباري پانو او بېمې په پلورلو کې. که تاسې فکر کوئ چې د پانگوونکي د جلب لپاره به مو ویښته تور یا حتمن سپین وي یا باید بیخي نه وي، نو دا فکر مو ناسم دی. هلته دا مطرح وي چې تاسې پر خپل کار څومره برلاسي یاست. که تاسې په کار سم پوه شئ او له خلکو سره لاره پیدا کړئ، دا په دې مانا ده چې د کار لپاره اړین او لازم عمر و بلوغ لرئ. عمر له ورتیا سره هېڅ اړیکه نه لري، خو یوازې ځان په دې مه قانع کوئ چې د کلونو تېرېدل به گڼي له تاسې قوي او باوري انسان جوړ کړي.

زیاتره ځوانان داسې فکر کوي چې ځواني یې گڼي د لارې خنډ شوې ده، البته ښایي ځینې خلک ستاسې د لږ عمر له امله ستاسې د پرمختگ په لاره کې خنډ شي. **دوام لري...**

# کامرون

حشمت الله نوري



کامرون د افریقا لویې وچې په لوېدیځه برخه کې د ختیځ طول البلدونو د ۹ او ۱٦ او د شمالي عرض البلدونو د یوې او ۱۲ درجو ترمنځ موقعیت لري. دغه هېواد ۱۸۲۸٦۲ کیلومتره مربع پراخوالی لري او له دې پلوه د نړۍ ۴۸م لوی هېواد دی.

کامرون شمال ته له چاد جهیل، ختیځ ته د چاد له جمهوریت، لوېدیځ ته له نایجیریا او جنوب ته له کانگو گابون او استوایي گیني سره گډه پوله لري.

د دغه هېواد جنوبي او منځنۍ سیمې د استوا له کرښې سره د گاونډیتوب له امله ډېرې تودې دي. په عمومي توگه د کامرون هوا توده- لنده ده او ډېر اورښت پکې کېږي. دغه هېواد د استوا د کرښې په شمال کې پروت دی، له همدې امله یې جنوبي برخې په ډېرو استوایي ځنگلونو پوښلې دي او هوارې ځمکې یې د کرنې وړ دي. ډېر خلک یې په همدې جنوبي سیمو کې مېشت دي او په ځمکو کې یې غلې دانې، قهوه او کېلې ښه حاصل کوي.

کامرون غرنی هېواد دی، د غرونو لړۍ یې په منځنیو او لوېدیځو برخو کې غځېدلې دي. د دغو غرونو لړۍ د نایجیریا او کامرون ترمنځ پرته ده چې دواړه هېوادونه سره بېلوي.

د دغه هېواد پلازمېنه د یائونډه ښار دی، نفوس یې څه باندې ۲۳ میلیونو ته رسېږي چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۴۳ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ٦٥ سلنه وگړي په ښارونو او ۳۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او باندو کې مېشت دي. د کامرون د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې د ۴ ماشومانو د درلودو اجازه لري.

کامرون د اداري وېش له مخې په ۱۰ ولایتونو وېشل شوی دی. دوالا، یونیدي، بیمنډا، کوسراي، مکولو او بریتووانا یې مهم او مشهور ښارونه دي.

په دغه هېواد کې څه د پاسه ۲۰۰ قومي ډلې ژوند کوي. په جگو سیمو کې یې ۳۳ سلنه تور پوستي، ۲۰ سلنه استوایي بانتو، ۱۱ سلنه کیردي، ۱۰ سلنه فولاني فولبه او پاتې نور یې افریقایان او هاوسا بولو بانک نژاده وگړي ژوند کوي.

رسمي ژبې یې انگلیسي او فرانسوي دي، خو لیکدود یې لاتیني دی.

د کامرون د حکومت ډول جمهوري دی. اساسي قانون یې د ۱۹۷۲ ز کال د مې په ۲۰ مه نافذ شوی چې د همدغه کال د جون په دویمه، د ۱۹۹٦ ز کال په جنوري او د ۲۰۰۸ ز کال په اپرېل کې پرې بیاکتنې شوې دي.

په دغه هېواد کې ولسمشر د خلکو په خوښه د اوو کلونو لپاره ټاکل کېږي. ولسمشر یې د اساسي قانون د وروستي تعدیل له مخې څو ځلې کار کولای شي او ټاکنه یې هېڅ محدودیت نه لري. د کامرون لومړی وزیر او د کابینې ټول وزیران د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي.

د دغه هېواد ولسي جرگه ۱۸۰ غړي لري چې د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره کار کولای شي. ولسمشر یې کولای شي چې د ولسي جرگې د کار موده زیاته یا کمه کړي. د مشرانو جرگه یې بیا ۱۰۰ غړي لري چې ۷۰ یې د ښاروالیو د شوراگانو او ۳۰ یې د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي او د پنځو کلونو لپاره کار کوي. په دغه هېواد کې رایه ورکول عمومي او د رایې ورکولو سن پکې ۲۱ کاله ټاکل شوی دی.

د کامرون حقوقي نظام د فرانسې د مدني قانون پر بنسټ کار کوي، ستره محکمه او د عدالت لویه محکمه د دغه هېواد لوړ قضایي ارگانونه دي.

د کامرون د خلکو ولسواک غورځنگ، د کامرون ولسواک اتحاد، د جمهوریت د ساتنې غورځنگ، ټولنپاله ولسواکه جبهه او د ولسواکۍ او پرمختگ ملي اتحاد یې مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.

د ۱۹٦۰ ز کال د جنوري په لومړۍ یې له فرانسې څخه خپلواکي واخیسته. د مې ۲۰مه هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.

دغه هېواد د ۱۹٦۰ ز کال د سپټمبر په ۲۰ مه د ملگرو ملتونو ترځنگ، د ډېرو نړیوالو ټولنو غړیتوب هم تر لاسه کړ.

کامرون د تېلو د زېرمو او ښو کرنیزو ځمکو د درلودو له امله په افریقایي هېوادونو کې ښه ځای لري، خو له دې سره سره بیا هم هغه ستونزې لري چې نور وروسته پاتې هېوادونه ورسره مخ دي، لکه: د سړي سرکلني عاید ټیټه کچه، د ملي شتمنیو ناسم وېش، ډېر لوړ اداري فساد، د ټولنیزو خدماتو لږوالی او د کورنیو او بهرنیو پانگو د جلبولو لپاره قانوني، حقوقي او اداري ستونزې. په دغه هېواد کې د اقتصاد اساسي چارې د برېټانوي، فرانسوي، امریکایي او الماني پانگوالو په ولکه کې دي. په کامرون کې د سوداگرۍ د پراختیا لپاره ښه امکانات نشته. له ۱۹۹۰ ز کال راپه دېخوا د دغه هېواد د ای ایم ایف نړیوال بانک د هغو پروگرامونو په پلي کولو پیل کړی دی چې غواړي د سوداگرۍ د پراختیا لپاره پانگه پیدا کړي، د کرنې په سکټور کې حاصلات ډېر او ملي پانگونه بیا په ښو ودروي. د کامرون د دولت د کمزورې اداري او ډېر اختلاس له امله دا هدفونه تر اوسه نه دي تر لاسه شوي او ای ایم ایف د دغه هېواد پر حکومت فشار زیات کړی، څو اصلاحات رامنځته کړي.

د دغه هېواد د سړي سرکلني عاید کچه ۱۲۱۷ ډالرو ته رسېږي او ۳۰ سلنه کورنۍ یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

د اومو تېلو ایستل او چاڼ، د اوبو برېښنا، خوراکي توکي، سپک استهلاکي شیان، د کوچنیو او منځنیو بېړیو ترمیم، ټوکران، لرگي، کیمیاوي مواد، برېښنا، المونیم، گوگړ او لاسي کارونه یې مهم صنعتي تولیدات دي.

د کامرون ۱۸ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، ٦ سلنه خاوره یې څړځایونو او پاتې نوره یې ځنگلونو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۷۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

قهوه، خرما، پنبه، لرگي، ربړ، چای، تنباکو، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات او هگۍ د دغه هېواد د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.

سره زر، سپین زر، المونیم، بوکسیټ، د اوسپنې ډبرې، تېل او گاز یې مهم کانونه دي. ایټالیا، هسپانیه، فرانسه، هالنډ، جرمني، امریکا، چین او هند د دغه هېواد لوی سوداگریز شریکان دي.

دغه هېواد ۱۳۰۰ د اورگاډي پټلۍ او ۴۰ هوایي ډگرونه لري چې ۱۵ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰۲۳۷ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې سي ایم دی چې ۸ لکه وگړي یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

د کامرون دولت د دغه هېواد رسنۍ تر ډېره کنټرولوي. د دغه هېواد د راډیو ټلوېزیون شرکت ۴ دولتي او ۵ خصوصي ټلوېزیونونه لري او د دې ترڅنگ په دغه هېواد کې ۵ ورځپاڼې، ۵۰ اونیزې، میاشتنۍ او مهالنۍ هم شته چې په انگلیسي او نورو سیمه ییزو ژبو خپرونې کوي.

کامرون د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید له پلوه، د افریقا وروسته پاتې هېواد دی. د دغه هېواد ۸۰ سلنه خلک په لیک او لوست پوهېږي. زده کړه پکې له ٦ نه تر ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

د کامرون اوسنۍ خاوره د بانتو د قوم د استوگنې ځای دی. دا خلک له میلاد څخه ۲۰۰ کاله مخکې د دغه هېواد په ختیځو او جنوبي څنډو کې مېشت شوي دي.

پرتگالیان هغه لومړني اروپایان وو چې په ۱۵ مه پېړۍ کې د نني کامرون خاورې ته ورسېدل. هغه وخت په دې سیمه کې د مرییانو سوداگري ډېره پرمختللې وه. په ۱۴۷۲ ز کال کې پرتگال فرناندو پوی په هغه سیند چې ډېر میگو کبان یې درلودل، کامارونس نوم کېښود. کامارونس په پرتگالي ژبه همدغو کبانو ته وایي. دغه نوم وروسته بیا په کامرون بدل شو. د کامرون خاورې ته د فولاني قوم لېږد، د دې سیمې له اقتصادي پرمختگ سره ډېره مرسته وکړه. فولانیانو د کامرون په مرکزي او شمالي سیمو کې د ارامآوا کورواکه واکمنې جوړه کړه چې خلک یې پر کرنه او لاسي کارونو بوخت وو.

پرتگالیان ډېره موده په کامرون کې پاتې نه شول. د ۱۹مې پېړۍ په پای کې المانیان کامرون ته ورسېدل، المانیانو د ۱۸۸۴ ز کال په جولای کې د کامرون د ساحلي سیمو له ځینو قبایلي مشرانو سره داسې تړونونه لاسلیک کړل، چې د پرتگالي واکمنۍ لمن محدوده او پر دغه هېواد باندې د المان اغېزه او واکمني یې پیاوړې کړه. د برلېن د ۱۸۸۵ ز کال غونډې کامرون د المان د خاورې یوه برخه وباله، خو قبایلي مشرانو د اداماوا سیمه چې خپله واکمني یې درلوده او د برېټانیا د پاملرنې وړ وه، په نوي تړون کې شامله نه کړه. دا سیمه تر ۱۸۸۴ ز کال پورې کورواکه وه.

په ۱۸۹۷ ز کال کې د یوې قبیلې مشر د الماني نیواک پر ضد پاڅون وکړ. که څه هم چې دغه خونړي پاڅون څلور کاله دوام وموند، خو په کامرون کې یې د المانیانو لاسوهنه پای ته ونه رسوله. له دې وروسته ځینې کامروني قبایلو او قومونو بیا بیا د المان پر ضد راپاڅېدل او دغه هېواد ته یې سرخوږی پیدا کړ. په ۱۹۰۲ ز کال کې کامرون رسماً د المان په مستعمره بدل شو.

د لومړۍ نړیوالې جگړې په وخت کې فرانسوي او برېټانوي پوځونو پر کامرون یرغل وکړ. فرانسویانو د کامرون ۷۵ سلنه خاوره ونیوه او پاتې نوره یې د برېټانویانو لاس ته ورغله.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د کامرون نوم نشته، نو له همدې کبله دا دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري. له افغانستان څخه تر کامرون پورې د هوا له لارې فاصله ٦۳۸۰ کیلومترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او یائونډه ښارونو ترمنځ د وخت توپیر هم درې نیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵،۷۵ |
| € | ۸٦،۲۵ |
| Rp. | ۵۴۰ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۰،۹۰ |
| £ | ۹۵،۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 19:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د بلغاريا هغه سيمې چې ډېر سيلانيان ورځي

ژباړه: حميدالله حميدي

بلغاريا د بالکان په ټاپو وزمه کې پروت هېوا دی چې د اروپا په ختيځه برخه کې راځي او شاوخوا يې تورې بحيرې چاپېره کړې ده. دغه هېواد ۳۵۰۰ کلن تاريخ لري، چې هغه وخت ترکي قومونو په دې سيمه کې ژوند کاوه. د بلغاريا نوم، د دغه هېواد لومړي پاچا ور باندې ايښی دی. ډېری اوسېدونکي يې په بلغاري ژبه خبرې کوي چې د ترکې ژبې يوه څانګه بلل کېږي. دا چې دغه هېواد ډېره پخوانۍ مخينه لري، له همدې کبله پکې تاريخي سيمې او ځايونه هم ډېر دي چې په کلني ډول ترې ډېر سيلانيان ليدنه کوي. دغه هېواد ته په کلني ډول ډېر خلک ورځي چې همدا د سيلانيانو ورتګ يې د عوايدو يوه ښه سرچينه هم بلل کېږي. په همدې ليکنه کې مو د دغه هېواد ځينې جذاب او په زړه پورې ځايونه در پېژندلي دي.

**۱- وارنا (Varna)**

وارنا د بلغاريا يو تاريخي ښار دی چې هر کال يې زرګونه سيلانيان ليدو ته ورځي. دغه شمېره بيا په اوړي کې ښېخې زياته وي. که د تاريخي ځايونو له ليدو سره مينه لرې، نو بلغاريا ته په تګ سره مو دا تاريخي ځای له ياده ونه وځي. د وارنا سواحل بل هغه ځای دی چې ډېر سيلانيان ورځي، ځکه په دې سيمه کې هر ډول سمندري خواړه پيدا کېدای شي.

**۲- وليکو تارنوو (Veliko Tarnovo)**

وليکو تارنوو د بلغاريا په شمالي غرونو کې پرته سيمه ده چې د تزاريانو د افسانو د ښار په نامه هم شهرت لري. ابس ته ورته رودخانه يا نترا دغه ښار په دوو برخو وېشلی دی. د دغه ښار کوچنۍ کوڅې په ډېرو پوښل شوې دي او کورنه يې نيم له لرګيو جوړ شوي دي چې د منځنيو پېړيو او په بلغاريا کې د دويمې امپراتورۍ ښکارندويي کوي. د دغه ښار په لارو او کوڅو کې د پخوانيو خلکو کار او خواري له ورايه ښکاري.



**۳- صوفيه (Sofia)**

صوفيه د بلغاريا پلازمېنه او د ځلوېښتو تاريخي ځايونو درلودونکی ښار دی. تاسو کولی شی په دغه ښار کې د مختلفو دورو له تاريخي ځايونو څخه ليدنه وکړئ. د بېلګې په توګه، د پخواني شوروي اتحاد له يادښتونو او د سرديکا د کلا له پاتې شونو څخه. په دغه ښار کې پر ځلوېښتو تاريخي ځايونو سربېره ډېر نور داسې ځايونه هم شته چې په ليدو يې حيرانېږئ او په دې ارزي چې يو ځل يې وګورئ.

**۴- بلوګرادچيک (Belogradchik)**

د بلوګراد چيک ښار د بالکان غرونو په شمالي برخه کې پروت دی او د خپلو عجايبو له کبله چې لري يې، نړيوال شهرت يې خپل کړی دی. دغه لويې لويې ډبرې او ببرکې د لوګراد چيک په نامه يادېږي چې بېلابېل شکلونه او ډولونه لري. داسې ويل کېږي چې د دغو توږل شويو ډبرو تاريخي مخينه ان د روميانو زمانې ته ورګرځي. دغه ښار ته هم په کلني ډول ډېر کسان د ليدو لپاره ورځي چې له کبله يې په زياته پيمانه پيسې د دولت بودجې ته لوېږي.

**۵- پرپريکون (Perperikon)**

د پرپريکون تاريخي سيمه چې ځانګړې توږل شوې لويې ډبرې پکې د کنوني کاردزهالي ښار په ۱۵ کيلومترۍ کې پرتې دي او په بالکان جزيره کې بل داسې ښايسته ځای نه ترسترګو کېږي. په دغه ځای کې به داسې تاريخي ځايونه او توږل شوې ډبرې ووينی چې مخينه يې ان د سکندر کبير زمانې ته ور ګرځي. که له تاريخي ځايونو سره مو جوړه وي او بلغاريا ته لاړی، نو هرو مرو يې وګورئ. پر تاريخي ځايونو سربېره په دې سيمه کې نور ډېر داسې ځايونه شته چې په ليدلو ارزي.

**٦- نسبار (Nessebar)**

د نسبار ښار بل هغه تاريخي ځای دی چې د بلغاريا د بورګاس په ولايت کې موقعيت لري. دغه تاريخي ښار په ۱۹۸۳ ز کال کې د خپل تاريخي قدامت له مخې له يونسکو سره د نړيوال ميراث په نوملړ کې شامل او ثبت شو. راځئ دلته په ټوله کې د بلغاريا په اړه ځينې معلومات تر لاسه کړو. بلغاريا درې ډوله هوا لري، د شمالي سيمو ژمی يې ډېر سوړ او دوبی يې تود وي. د مارتيسا سيند د شاوخوا سيمو هوا هر وخت معتدله او لنده وي، خو د جګو غرنيو برخو هوا په تېره د رودوپ غرونو په سيمو کې سړه ده او ډېر اورښت لري. د دغه وړوکي هېواد د بالکان سيمې ډېره خاوره د غرونو په لړيو پټه ده. د بلغاريا جنوب لوېديځې سيمې ډېرې غرنۍ دي او د بالکان رودوپ او موسالا غرونو چې په منځنۍ توګه له ۲۰۰۰ مترو څخه جګ دي، هم په دې سيمه کې پراته دي. په عمومي توګه د سمندر له سطحې څخه د بلغاريا تر ټوله ټيټه سيمه تورسمندرګی دی او تر ټولو لوړه موسالا ده چې ۲۹۲۵ متره لوړوالی لري. د بلغاريا ۲۹ سلنه ځمکه د کرنې وړده . د دغه هېواد ۳۵ سلنه ځمکه ځنګلونو، ١٦ سلنه څرځايونو او پاتې ۲۹ سلنه غرونو، غونډيو، سيندونو، ښارونو او د کار او استوګنې کليوالو سيمو نيولې ده. بلغاريا د اروپا او نړۍ له پرمختللو هېوادونو څخه دی چې له ۱۵ کلنو څخه پورته ۹۸ سلنه اوسېدونکي يې په ليک او لوست پوهېږي. پخوا زده کړې د دولت په بودجه ولاړې وې، خو اوس اوس خصوصي سکټور ته هم زمينه برابره شوې ده. د يادونې وړ ده چې هر هېواد په خپل جوړښت کې د سيل او چکر لپاره ډېر داسې ځايونه لري چې د نورو هېوادونو خلک بايد ترې ليدنه وکړي. د ډېری هېوادونو لپاره د سيلانيانو ورتګ د عوايدو ښه سرچينه بلل کېږي. ډېری هېوادونه بيا نه غواړي چې له اړتيا پرته دې د نورو هېوادونو خلک ترې ليدنه وکړي چې له دې ډلې يو هم سعودي عربستان دی، خو د دغه هېواد نوي وليعهد محمد بن سلمان په دې وروستيو کې ويلي چې له دې وروسته به په دې برخو کې پخواني بنديزونه له منځه يوسي او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک کولی شي چې دغه هېواد ته سفر وکړي، له تاريخي ځايونو يې ليدنه وکړي چې له دې درکه به سعودي عربستان هر کال په لوړه کچه عوايد ولري.

# جمعيت ګوند: ښايي په ولسمشريزو ټاکنو کې له ډاکتر عبدالله عبدالله ملاتړ وکړو

د جمعيت اسلامي ګوند د مشرتابه يو غړی وايي، ممکن دغه ګوند په ولسمشريزو ټاکنو کې د عبدالله عبدالله د کانديدېدو ملاتړ وکړي.

د دغه ګوند د مشرتابه پلاوي يوه غړي د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډيو ته وويل، دغه ګوند به راتلونکو ټاکنو ته خپل کانديد معرفي کړي چې د حکومت پر اوسني اجرايه رييس ډاکتر عبدالله عبدالله سربېره، د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني او د ملي وفاق د بهير مشر احمد ولي مسعود هغه کسان دي چې ممکن يو ترې د جمعيت اسلامي له اړخه ټاکنيزه مبارزه پيل کړي. بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي، عبدالله عبدالله په هغو اتيا کسانو کې دی چې ولسمشريزو ټاکنو ته يې د نوماندۍ لپاره له دوی معلوماتي کڅوړې ترلاسه کړې دي.



دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې د جمعيت اجرايه رييس عطامحمد نور او د دغه ګوند غړي محمد اسماعيل ويلي وو چې جمعيت به وروسته له دې د عبدالله عبدالله ملاتړ ونه کړي، خو د دغه ګوند يادې سرچينې ويلي چې په دې اړه د ياد ګوند مشرتابه تر اوسه کومه پرېکړه نه ده کړې. په ورته وخت کې جنبش ګوند وايي، دغه ګوند به د محمدکريم خليلي په مشرۍ له جمعيت اسلامي او حزب وحدت اسلامي سره په ګډه ټاکنيز ډګر ته راووځي.

د دغه ګوند مرستيال عبدالله قرلق پرون ازادي راډيو ته وويل، په دې وروستيو کې د دريو واړو ګوندونو ترمنځ ليده کاته شوي، خو د ټاکنيز ټيم د جوړولو په څرنګوالي هوکړې ته نه دي رسېدلي.

نوموړي وويل: «د انتخاباتي ټکټ د جوړولو لپاره يې ناستې او بحثونه درلودل او په دې يې هوکړه کړې چې که هر لوري ته ولاړل، دغه درې واړه ګوندونه به واحد تصميم ولري او يو انتخاباتي ټکټ ته به کار کوي».

د جنبش ګوند مرستيال دا هم وايي چې د افغانستان د ولسمشر لومړی مرستيال او د دغه ګوند مشر عبدالرشيد دوستم به د ترک تبارانو يو کدر د کوم کانديد د لومړي مرستيال په توګه معرفي کړي.

# مشرانو جرګه: چارواکي بايدپه دې پوه شي چې د ټرمپ وروستۍ څرګندونې موږ ته پېغور دي

د افغان جګړې په اړه د امريکا د ولسمشر ټرمپ وروستيو څرګندونو د مشرانو جرګې غبرګونونه او اندېښنې راپارولې دي.

د دې جرګې رييس فضل هادي مسلميار د جرګې د يکشنبې د ورځې په عمومي غونډه کې ټينګار وکړ، چې امريکا بايد له افغانستان سره د امنيتي تړون خبره هېره نه کړي. نوموړي وويل: «دا چې امريکا ويلي چې نور د افغانستان له جګړې ستړې ده، نو بايد ووايو چې د دې ستړيا د ختمولو لپاره بله لار شته، خو له موږ سره بايد د امنيتي او دفاعي تړون له مخې مخته ولاړ شي. موږ سولې ته اړتيا لرو، زموږ سياسيون، رهبران او خلک بايد په دې پوه شي چې د ټرمپ څرګندونې موږ ته پېغور دي.»



دا څرګندونې وروسته له هغه مطرح کېږي چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ څو ورځې وړاندې وويل، د روسيې حضور په افغانستان کې په حقه و، ځکه هلته تروريستان وو او هغوی غوښتل چې روسيې ته لاړ شي.

د ټرمپ دغو څرګندونو ډېر غبرګونونه راپارول چې په لړ کې يې د ولسمشرۍ ماڼۍ د يوې اعلاميې په خپرولو سره پرته له دې چې د چا نوم واخلي، ويلي چې نړيوال ځواکونه افغانستان ته يوازې د دغه هېواد د امنيت په خاطر نه، بلکې د نړۍ او ملګرو هېوادونو د امنيت په خاطر راغلي دي.

په اعلاميه کې راغلي، د امريکا په رسمي پاليسيو او څرګندونو کې توپير ليدل کېږي، نو ځکه يې له هغه هېواده د ډيپلوماټيکو لارو د ځينو پاليسيو په اړه د وضاحت غوښتنه کړې ده. ټرمپ په داسې حال کې دا څرګندونې کوې چې نوموړي بيا بيا پاکستان د تروريستانو ملاتړی هېواد او پټنځای بللی او پر دغه هېواد يې له دې امله خپلې مرستې هم بندې کړې دي.

په ورته وخت کې د مشرانو جرګې مرستيال محمدعلم ايزديار بيا د امريکا د ولسمشر دا څرګندونې د پاکستان او تروريستي ډلو پر وړاندې د دغه هېواد د ماتې او د افغانستان د سولې له بهيره د شاتګ په معنا بولي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د جنوري اوومه | دویم کال | ۳۱۳مه گڼه



www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۵ | ۱۸ | ۱۹ | ۱۲ | ۱۵ |
| -۷ | ۵ | ٤ | ٦ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیگر ۰۳:۲۱ | ماښام ۰٤:۵۹ | ماخوستن ۰٦:۲۸

## نړۍ




## کمیسیون انتخابات: بازشماری آرای ۳۰۰ مرکز رایدهی کابل آغاز شد



کمیسیون مستقل انتخابات می گوید که روند بازشماری آرای ۳۰۰ مرکز رای دهی ولایت کابل، دیروز رسماً آغاز و تا فردا ادامه خواهد داشت.

ذبیح سادات معاون سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات گفت، قرار بود بازشماری آرای این مراکز شنبه گذشته آغاز گردد؛ اما بنا برعدم حضور کارمندان کمیسیون شکایات انتخاباتی، این روند صورت نگرفت و دیروز با اشتراک نمایندهٔ کمیسیون شکایات انتخاباتی، نماینده های نهادهای ناظر انتخابات وفعالان مدنی رسماً آغاز گردید.

وی، دلیل بازشماری آرای این مراکز را مشکلات تخنیکی از جمله عدم موجودیت فورم های شکایت، و اوراق انتخابات و مداخلهٔ زورمندان در پروسهٔ رای دهی عنوان کرد.

بر اساس معلومات سادات، تا کنون ۸۰ درصد معلومات درخصوص آرای ولایت کابل، درج سیستم شده که باشمارش دوبارهٔ ۳۰۰ محل رای دهی، این پروسهٔ تکمیل و لیست نتایج ابتدایی نامزدان ولسی جرگه ولایت کابل، در آخر هفته روان اعلام خواهد شد.

معاون سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات، در ادامه افزود که بازشماری این مراکز، در پی یافته های کمیسیون و درخواست نهادهای ناظر بر انتخابات و نهاد های مدنی صورت گرفته است .

این در حالیست که دو روز پیش، ناظران برخی احزاب سیاسی، ضمن تأکید بر ابطال آرای انتخابات ولسی جرگه در کابل گفتند که اسناد تقلب در بازشماری و حتی خرید و فروش آرا در کابل را به زودی به نهادهای ذیربط می سپارند.

بر اساس یک گزارش، کمیسیون شکایات انتخاباتی در پانزدهم قوس سال روان اعلام کرد که تمام آرای انتخابات ولسی جرگه حوزه کابل، که در ۲۸ و ۲۹ میزان برگزار شده، باطل می باشد؛ زیرا این انتخابات پر از تقلب بوده است.